جمهوری اسلامی افغانستان
د پوهنې وزارت ۱۳۸۱

هفته نامه
# معارف
اوونیزه

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه

سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۰۱ ماه میزان سال ۱۳۹۵

**معارف سالم، متوازن و کوشا ضامن رشد و ترقی کشور است**

## د ښوونکي د نړیوالې ورځې په مناسبت د پوهنې د جلالتمآب وزیر پیغام

د خوښۍ ځای دی، چې د ښوونکي د ویاړلې ورځې د رارسېدو له امله، چې د تلې میاشتې له ۱۳ مې نېټې سره سمون لري، تاسې درنو ښوونکو، د ښوونې او روزنې او سواد زده کړو مربیانو او ټولو درنو هېواد والو ته د زړه له کومي مبارکي وایم.

د ښوونکي د لوړ مقام د پېژندلو لپاره بسنه کوي، چې د بشریت ستر لارښود حضرت محمد (ص) خپل ځان ته ښوونکی ویلی او فرمایلي یې دي: (انما بعثت معلما) په تحقیق سره زه ښوونکی را لیږل شوی یم.

پرته له شکه تاسې ښوونکي له اقتصادي، امنیتي او نورو ګڼو ستونزو سره سره د وطن د اولادونو په روزلو کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې او په پوره اخلاص او زړه سوي مو د ولس بچیانو ته د خدمت په لاره کې اوچت ګامونه پورته کړي دي.

زه باورلرم، چې د افغانستان علم خوښوونکی او مېړنی ولس به ستاسو د بې شانه هڅو په پایله کې د ترقۍ او پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسېږي او د نړۍ د پرمختللو هېوادونو په کتار کې به ودرېږي.

پر ځای بولم، چې د هېواد د بچیانو د روزلو په لار کې د ښوونکو د هڅو او زحمتونو ترڅنګ، د وطن ددې ویاړلي قشر له قربانیو او شهادتونو هم په نېکۍ یادونه وکړو. په خواشینۍ سره، چې په روان کال کې زموږ یو شمېر ښوونکي او د پوهنې کارکوونکي په بېلابېلو پېښو کې په ځانګړي ډول د ناامنیو له امله شهیدان یا ټپیان شوي دي، چې د لوی خدای (ج) له درباره شهیدانو ته د مغفرت او کورنیو او خپلوانو ته یې د جمیل صبر او ټپیانو ته د عاجلې شفا غوښتنه کوم.



په پای کې یو ځل بیا درنو ښوونکو ته د ښوونکي د نړیوالې ورځې مبارکي وایم او له ټولو هېوادوالو په ځانګړي ډول له دیني عالمانو، قومي مشرانو او ملي سوداګرو غواړم، چې د ښوونیز نظام د ودې او پراختیا او د ښوونکو او زده کوونکو د ځان او مال او د پوهنې د سپېڅلي حریم په ساتلو کې له پوهنې وزارت سره هر اړخیزه مرسته او همکاري وکړي.

## یازدهمین دور رقابت های علمی شاگردان مکاتب آغاز گردید

در محفلی که با حضور محترم دکتور سیدحمیدالله سرپرست و معین مالی و اداری وزارت معارف از روئسای مرکزی وزارت معارف رهبری مکاتب افغان ترک و شماری از استادان مکاتب دولتی، خصوصی و افغان – ترک نیز شرکت داشتند، دایر گردید.

ابتدا محترم دکتور سید حمیدالله معین مالی و اداری و سرپرست وزارت معارف ضمن خوش آمدید به مهمانان و رهبری مکاتب افغان – ترک اظهار نمودند:« هدف از راه اندازی مسابقات علمی شاگردان مکاتب افغان – ترک با سایر شاگردان مکاتب دولتی و خصوصی شناسایی استعداد های جوان در مکاتب می باشد که به ابتکار برادران ترکی ما راه اندازی گردیده است.»

محترم سرپرست وزارت معارف هم چنان از همکاری های کشور دوست ترکیه در بخش های مختلف به ویژه در عرصه تعلیم و تربیه و ایجاد مکاتب افغان – ترک در شش ولایت (کابل، ننگرهار، بلخ، جوزجان،



هرات و قندهار) ابراز قدردانی نمود و خواهان ایجاد و تأسیس مکاتب افغان – ترک در سایر ولایات شدند.

متعاقبا آقای یلماز آیتین معاون عمومی مکاتب افغان – ترک صحبت نموده، گفتند که این مسابقات علمی شامل تمام مضامین ساینسی و علم طبیعی بوده که جمعا ۴۵۷۴ شاگرد صنوف ۶-۱۲ از مکاتب دولتی، خصوصی و افغان – ترک سراسر افغانستان در آن اشتراک کرده و از جمله ۶۱۰ تن آنها موفق شده که با نمایش ۱۲۰ پروژه علمی خویش به رقابت بپردازند.

رقابت های شاگردان از سوی هیأت منتخب با حضور نماینده گان اکادمی علوم افغانستان ارزیابی و به مستحقین جوایز درنظرگرفته شده است.

## د کابل ښار د تخنیکي او مسلکي انستیتوتونو د ښوونکو د جذب آزموینه واخیستل شوه

د کابل ښار تخنیکي او مسلکي انستیتوتونو ته د ښوونکو د جذبولو په مرکز کې د آزادي سیالی له لارې آزموینه واخیستل شوه.



موخه له ۵۵ تنو ښځینه او نارینه ګډونوالو څخه د کابل د ساینس په د پوهنې وزارت تخنیکي او مسلکي مرستیال محمد رحیل فرملي د آزموینې د کتنې په مهاَل ګډونوالو ته د بریا هیله وکړه او د آزموینې د لړۍ په روڼتیا یې ټینګار وکړ.

دغه آزموینه چې د کابل ښار د تخنیکي او مسلکي انستیتوتونو د خالي بستونو د ډکولو لپاره واخیستل شوه د ۵۵ تنه ګډونوالو له ډلې څخه ۱۰ تنه د اقتصاد، یو یو تن د مجسمې جوړونې او ګرافیک او دوه تنه نور د انستیتوتونو د نقاشۍ په څانګو کې د ښوونکو په توګه ګمارل کیږي.

## تدویر ورکشاپ آموزشی برای معلمین مکاتب محلی بادغیس

ورکشاپ آموزشی ۱۴روزه به منظور بلند بردن ظرفیت کاری معلمین مکاتب محلی معارف ولایت بادغیس دایر گردید.

در محفلی که بدین مناسبت در تالار جلسات ریاست معارف آنولایت تدویر گردیده بود رئیس معارف آنولایت راجع به اهمیت ورکشاپ ها صحبت نموده طی سخنانش اشترا ک کننده گان ورکشاپ را متوجه مسوولیت ها و وظایف شان نموده واز اشتراک کننده گان ورکشاپ خواستار گردید تا مسایل که در ورکشاپ مطرح می گردد به وجه احسن در مکاتب شان عملی نماید.

ور کشاپ متذکره به همکاری ریاست معارف و همکاری مالی وتخنیکی دفتر یونیسف براه انداخته شده که به تعداد ۳۵ تن از معلمین مکاتب محلی ولسوالی مرغاب ولایت بادغیس در آن اشتراک ورزیده که در رابطه به تدریس وسایر موضوعات تعلیمی و تربیتی دانستنی های ارزشمندی فرا خواهند گرفت .

مکاتب سی بی اس ویا مکاتب محلی به مکاتب گفته می شود که شاگردان خرد سال به دلیل مسافت ودوری مکتب به مکتب اصلی رسیده نمی تواند وزارت معارف به خاطر سهولت آموزش برای همه اقدام به ایجاد کورس تحت عنوان سی بی اس نموده است . که درهر کورس ۱۵ – ۲۰ شاگرد مصروف آموزش است.

## د چهار آسیاب ولسوالۍ د ښوونکو ښارګوټي پرانېستل شو

د کابل ولایت د چهار آسیاب ولسوالۍ د ښوونکو ښار ګوټي د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو معین ښاغلي ډاکټر محمد ابراهیم شینواري او یو شمېر نورو چارواکو لخوا پرانېستل شو.

دا ښارګوټی چې په ۸ سوه جریبه ځمکه کې جوړ شوی ۱۵۰۱ د هستوګنې نمرې لري چې په ۵۵۹ ښوونکو او د یادې ولسوالۍ د پوهنې آمریت کارکوونکو ته د یوې یوې نمرې د ملکیت اسناد ووېشل شول.

د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو مرستیال ډاکټر محمد ابراهیم شینواري ښوونکو ته د چهارآسیاب ولسوالۍ د ښارګوټي د پرانېستې مبارکي وویله او د دوی د ژوند د ښه والي په اړه یې د پوهنې وزارت د مهمو پروګرامونو یادونه وکړه.

د کابل ولایت د پوهنې ریيس ښاغلي محمد بشیر وردګ هم د ښوونکو د ښارګوټي د پرانېستې مبارکي وویله او په دې برخه کې یې د یادې ولسوالۍ د خلکو له ملاتړ څخه مننه وکړه.

ښاغلي وردګ زیاته کړه، چې پوهنې وزارت د ښوونکو د مالي او اقتصادي حالت د ښه والي لپاره جدي هلې ځلې کړې او پدې لاره کې به خپلو هڅو ته دوام ورکوي د یادولو ده، چې پوهنې وزارت تر دې مهاله د هېواد په ۲۸ ولایتونو کې ۸۰ زره ښوونکو ته د هستوګنې نمرې وېشلي او تر هغو به دې بهیر ته دوام ورکوي، چې ټول ښوونکي د یوې یوې نمرې خاوندان شي.

## تدویر ورکشاپ آموزشی برای مدیران مکاتب ولایت غور

جهت بلند بردن ظرفیت مدیران واستادان مکاتب دوستانه برای اطفال ولایت غور ورکشاپ آموزشی سه روزه در لیسه سلطان علاوالدین غوری شهر فیروز کوه دایر گردید در محفلی که بدین مناسبت تدویر گردیده بود، محترم استاد صبغت الله اکبری رییس معارف آنولایت ایجاد مکاتب دوستانه را برای اطفال ستایش نموده افزود: که باآغاز پروگرام یادشده جلب وجذب اطفال نظر به دیگر مکاتب زیاد شده واز اداراه کمک کننده خواست تا پروگرام مذکور را در سایر مکاتب نیز عملی سازند.

در این ورکشاپ سه روزه که از طرف دفتر یونیسف براه انداخته شده به تعداد ۳۰۰ تن از مدیران ، معلمین، اعضای شورای مکاتب وشاگردان مکاتب مربوط شهر فیروز کوه و و لسوالیهای دولتیار ولعل سر جنگل مکاتب دوستانه برای اطفال اشتراک دارند.

**رهبری وزارت معارف ۱۳ میزان روز جهانی معلم را به همۀ معلمان محترم کشور تبریک و تهنیت عرض میدارد!**

سرمقاله :

# مقام معلم سزاوار ارج و احترام است

مقام ومنزلت بلند و شامخ علم و معرفت در مورد دین، دنیا و پدیده های پیرامون آن که جهان ما دی و معنوی انسانها را با هم گره زده است در تمام ادیان ، مذاهب و فرهنگ های انسانی با یک صدا مورد تائید قرار گرفته و به آن مهر ارج گذاشته اند.قرآنکریم آخرین کتاب آسمانی که برپیامبر گرانقدر ما حضرت محمد (ص) نازل گردیده است نیز در بین انسانها از لحاظ رنگ ، قوم و نژاد به کدام تفاوت ارزش قایل نیست به جز به علم و تقوی ، پس علم و معرفت در احکام الهی جایگاه خاص داشته قسمیکه قرآنکریم می فرماید ! ترجمه : « آیا برابرند کسانیکه علم دارند با کسانیکه علم ندارند »بنابرین معلم ، مربی و استاد به مثابه انتقال دهنده این با ارزشترین ثروت و دارای بشر یعنی علم و معرفت که با سوختاندن خود دیگران را در روشنی قرار میدهند در جامعه ما مقام و منزلت خاص دارد و سزاوار ارج و احترام است .جامعه انسانی هر چه هست محصول و فراورده همین معلمان و استادان خویش اند یا به عباره دیگر ساختار معنوی جوامع بشری انعکاس و واکنش معلمان و استادان جامعه هستند و همه به آن ارج میگذارند، گفته ها ، سخنان ، ژیست ها ، حرکات، عقاید و نظریات آنان در مورد دنیای ما دی و معنوی در ذهن شاگردان شان حک گردیده از آن متاثر میگردند .
میگویند : « معلم برابدیت اثر میگذارد و نمیتوان گفت که نفوذ معنوی اش در کجا توقف خواهد کرد. اکثریت افراد جامعه گفته ها و آموزش های استادان و معلمان خویش را ملاک عمل قرار داده و رفتار اجتماعی شان از همین سر چشمه آبیاری مینمایند .

حضرت رسول اکرم (ص) می فرماید : خداوند (ج) مرا به عنوان معلم معبوث کرده است پس چه بهتر از اینکه معلمان و استادان ما وظیفه پیامبر گرانقدر اسلام را ادامه میدهند که هم خیر دنیا و هم خیر آخرت در آن نحفته است .

معلمان و استادان ما که در دشوار ترین روزهای دهه های اخیر تاریخ کشور از تعلیم و تربیت اولاد وطن دست بر نداشتند از همه بشتر قابل ارج و احترام هستند. آنان در نهایت فقر ، تنگدستی و تهدید ها به تربیت اولاد وطن پرداختند و نگذاشتند جهل و نادانی ، ظلم و وحشت درین سرزمین بستر ارام بگستراند .

لله الحمد که امروز از برکت معلمان وطن دوست ما به میلیونها جوان کشور اعم از دختر و پسر راه مکتب و مدرسه را در پیش گرفته در روشنا ئی احکام دین الهی در رشته ها و شقوق مختلف تعلیم و تربیت میشوند . معلمان و استادان گرانقدر ما خود میدانند که جز تربیت سالم اولاد وطن نمیتوان در کشور خود زندگی آرام و مرفه داشته باشیم ، بنابرین آنان از هر وقت دیگر سعی و تلاش مینمایند تا سهم خویش را با تربیت سالم فرزندان وطن در ترقی و شگوفانی کشور ادا نموده و ازین طریق در صدر فهرست آنانیکه در راه اعاده صلح و ترقی سراسر کشور فعال هستند ، قرار گیرند .

روز (۱۳) میزان مصادف است با روز معلم این روز فرخنده و پر میمنت در تمام مکاتب ، مدارس و نهاد های تعلیمی و تربیتی کشور با گرد همایی ها ، محافل و مجالس و اهدای تحفه های مادی و معنوی ، سرودن اشعار و مقاله ها از جانب نویسندگان و شاعران گرانقدر ما در سراسر کشور تجلیل میگردد . و بدینوسیله به مقام و منزلت معلم و استاد ارج میگذارند و تجمید مینمایند ، نیک و بجا خواهد بود که گویم معلم و استاد پدر معنوی جامعه و جلوه گر قدرت لایزال ذات اقدس الهی است .

## سنگ تهداب تعمیر سه باب مکتب در ولایت زابل گذاشته شد

سنگ تهداب تعمیر لیسه عالی چونی، متوسطه ملالی شهری قلات ومتوسطه جمال خیل ولسوالی شاه جوی ولایت زابل توسط والی وریيس معارف آنولایت در حالیکه تعدادی از



مسوولین ادارات دولتی، متنفذین قومی، استادان و شاگردان حضور داشتند گذاشته شد .
تعمیر های متذکره بصورت پخته و اساسی به مصرف مجموعی ۴۶ میلیون افغانی از طرف برنامه ارتقای کیفیت معارف در مدت ۸ ماه اعمار می گردد، که هر تعمیر دارای ۸ صنف درسی،۲ اتاق اداری، با سایر ملحقات ضروری خواهد بود قابل یاد آوری است که با اعمار تعمیر های متذکره زمینه آموزش بهتر برای شاگردان مهیا خواهد گردید.

## مساعدت به شاگردان معارف لوگر

به سلسله کمک های معارف دوستانه، مرکز همبستگی ماین پاکی افغانستان به تعداد ۷۰۰ بکسه مکتب را به ریاست معارف ولایت لوگر مساعدت نمودند.
اجناس مساعدت شده به شاگردان مکتب متوسطه نسوان بی بی آمنه وذکور جویک مرکز ولایت لوگر توزیع گردید.
در محفل که بدین مناسبت تدویر گردیده بود رییس معارف ضمن اظهار سپاس از رهبری این نهاد خواهان همکاری های هر چه بیشتر شان در عرصه معارف شدند. که بالمقابل نیز وعده هرنوع کمک وهمکاری سپرده شد.

# خپل ماشومان با غروره وروزئ

خپل ماشومان تشويق کړئ هغه دندې او مسووليتونه چې د هغوی له سن او عمر سره برابر دي ومني او په سرته رسولو کې يې برخه واخلي.
هغه ماشومان چې کورته له بازار څخه سودا راوړي، هغه ماشومان چې د کور په پاکولو او صفايي کې په خپله خوښه برخه اخلي، هغه ماشومان چې په صنف کې د نورو د حاضرى او غير حاضرى او د ټولګي د نګران دفتر ساتي يا هغه نجونې چې د کور د آشپزخانې او د لوښو د مينځلو او پاکولو دنده سرته رسوي په راتلونکي کې د پوره او کامل شخصيت خاوندان ګرځي ځکه هغوی پرته د چا له لارښوونې او اشارې څخه د ورسپارل شوي کار د سرته رسولو توان او مهارت په ځان کې پيدا کوي او په غرور او خپله خوښه د کار سرته رسولو ته ور دانګي او د بريااليتوب اوسرلوړی احساس کوي.
برعکس هغه ماشومان چې په کور کې بې باکه شپې او ورځې تيروي او د پلار او مور د خوشحالولو لپاره ځيني کارونه کوي او يا د کارونو د سرته رسولو لپاره د والدينو او استادانو اشارې ته سترګې په لاره وي يا والدين د هغو د کارونو تر بشپړ سرته رسولو پورې د هغوی څارنې ته د اړتيا احساس کوي دغه راز ماشومان ډېږي آموخته کيږي او تل له دنيا سره په جنګ وي، نو والدينو او ښوونکو ته په کارده چې ماشومان خپلو مسووليتونو ته زير کړي دهغو د غرور د لوړولو لپاره د هغوی په اوږو بار کيږدي، هغوی آزاد پريږدي څو خپل مسوليتونه سرته ورسوي، دغه رازماشومان وهڅوي چې د دې توان لري چې ورسپارل شوې دندې اجرا او سرته ورسوي.
ماشوم بايد وڅارل شي چې د دندې اوکارونو سرته رسولو په برخه کې څومره برياالی دی آيا د ورسپارل شوي کار له سرته رسولو سره مينه لري او که نه؟ آيا د ورسپارل شوي کار د سرته رسولو استعداد لري او که نه، د ماشوم طبعي ميلان د کومو کارونو د کولو لور ته ده.
والدين او ښوونکي بايد د ماشوم د طبعی استعداد دارزونې لپاره له هغو څخه د ذکاوت د معلومولو آزموينه واخلي، کله چې د ماشوم د مينې اوخوښې لوری څرګند شو، نو بيا وروسته کولای شي د هغو لپاره پيښه او مسلك و ټاکو او هغوی وهڅوي چې نوموړې پيښې اومسلك پرمخ بوځي.
والدين او ښوونکي به هغه وخت ډير برياالي وي چې وکولای شي د ماشوم دمينې او علاقې لوری او له هغه مسلك او پيښې سره چې مينه لري پيدا کړي څو ورسپارل شوې دنده او ټاکل شوی مسلك او پيښه د ده د اوږو بار نه شي او په خپلې کړنې کې پاتې را نه شي.
دغرور هغه حس چې يو ماشوم يا کس يې د يو برياالي کار د سرته رسولو له امله ترلاسه کوي ډېر ارزښت لري ځکه چې دغه عمل په ټولنه کې د ماشوم يا کس وقار او حيثيت لوړوي او د نوم او نښان خاوند يې ګرځوي ياد کسان تل خوښ او خندان وي او هيڅکله دنفرت او انزجار حس په کې وده نه کوي، په دوی کې ډار او ويره ځای نه شي موندلای او له حسادت څخه پاك وي. لټي او تنبلي د حسادت او نفرت نښه ده او ماشوم بايد پرې نه ښودل شي چې لټي او تنبلي خپله کړي او په راتلونکي کې هم ځان او هم خپلې ټولنې ته په سر خوړي بدل شي.
تنبل ماشومان د فعالو، سياليګرو او خود کاره ماشومانو له ملګرتيا ځان ساتي، ګوښيتوب اختيار وي او له هغو سره حسادت کوي، نو درنو والدينو او ښوونکو ته په کار ده چې د ماشومانو لپاره د مينې او علاقې وړ کارونه تشخيص او وسپاري څو هغوی د ورسپارل شويو کارونو او دندو په اجرا کولو سره د غرور احساس وکړي او د کامل او بشپړ شخصيت خاوندان شي او په راتلونکي کې د ټولنې د يوګټور شخص په توګه خپلې هيوادنی، ټولنيزې دندې د يو سالم انسان په توګه سرته ورسوي.

ګل رحمان رحمان

# ښوونکی بله شمعه ده

هر انسان په خپل ژوند کې په ښو او بدو د پوهېدلو او ترمنځ يې د فرق کولو لپاره ښوونکي ته اړتيا لري،داچې موږ وايو سليم عقل په سالم بدن کې وي،د سالم بدن جوړولو او دښې روزنې لپاره هم ښوونکي ته اړتيا شته ترڅو مو په دې وپوهوي چې څه مو د بدن لپاره اړين دي او له څه شي څخه بايد پرهيز وشي ترڅو مو له ستونزو سره مخ نکړي
په کور کې دماشوم د روزنې لپاره دزيږېدو له لومړۍ ورځې بيا ان ترهغه وخته چې واده وکړي اوپه خپله د ژوند شريك پيداکړي نو پلار اومور دهغوی لپاره مکلف دي چې هر ډول ستونزه يې ورحل کړي،دښو او بدو په تفکيك کې ورسره پوره مرسته وکړي ،له مشکلاتو سره د مبارزې کولو هنراو حل لارې ورته وښيي،او په راتلونکي ژوند کې يې له لوړو ژورو سره اشنا کړي ترڅو په هغه وخت کې چې دی په خپل چار چاپېره کې خپل مور اوپلار نه ويني خو له کومې لويې يا وړې ستونزې سره لاس او ګريوان وي ورڅخه د خلاصېدو په هنر يې پوه شي،داد مو اوپلار له اساسي اومهمو مکلفيتونو څخه دي،چې ديوه ښوونکي په صفت يې دخپل اولاد پر وړاندې لري او اولاد هم مکلف دی چې په پوره غور سره دخپل مور اوپلار نيکو او سالمو مشورو ته غوږ ونيسي اوپه ځان يې عملي کړي ترڅو دخپل ژوند په بهبود وپوهيږي.
همدارنګه د تعليم او زده کړو په برخه کې هر انسان اړ دی چې ښوونکی ولري ترڅو په ژوند کې د پرمختګ مسير ته په هغه توګه چې لازمه ده برابر شي.
داچې ښوونکی څوك دی راځئ په هکله يې پوه شو،ښوونکی د شاګرد يا زده کړيال معنوي پلار دی،ښوونکی هغه څوك دی چې زده کوونکي د علم او تعليم په ګانه سمبالوي،ښوونکی هغه څوك دی چې موږ له خپلې ټولنې،هېواد،جغرافيوی موقيت،اقليم ،دين ،مذهب،اسلام، کفر،نهي او منکر څخه خبروي او ښوونکی هغه څوك دی چې تل خپل ځان په ستونزو کې ورکوي خو زموږ له ستونزو څخه د وتلو لپاره کوشش کوي،تل يې هڅه داوي چې موږ زده کوونکی له ښوونځی،مدرسې،پوهنتون اوبل هر روزنځای څخه ډك دماغ کورته ستانه شو،ترڅو دوی خپله ايماني او اسلامي وجيبه اومسؤليت په سمه توګه سرته رسولی وی، نو ويلی شو چې ښوونکی د هغې شمعې په مثال دی کومه چې خپله تنه دخپل ملا تير په وسيله سوځوي خو نوروته رڼا ورکوي او په تيروکې دهدف تر لاسه کول ورته اسانه کوي
ښوونکی خپل زده کوونکی ته د خپل اولاد په نظر ګوري تل په دې هڅه کې وي چې هغه خوښ او راضي وساتي ترڅو په خپلو درسونوکې کوښښ وکړي اوپه يوه مثبته او لوړه درجه برياالی شي،همدارنګه په کورنی، ښوونځي، مدرسه، پوهنتون، مسجد، لار هر او هغه محيط کې چې دوی پکې ژوند کوي د رفتار،سلوك اوادابو په هکله ورته هر اړخيزې لارښوونې او دعملي کېدو سپارښتنې کوي ترڅو يې له هغو اشخاصو او همزولو سره فرق وشي کوم چې له زده کړو او ښوونځي څخه لرې پاتې وي
کله چې ددواړو جهانونو سردار، اولين او اخرين پيغمبر حضرت محمد مصطفی صل الله عليه وسلم په نړۍ کې سترګې وغړولې نو په دنيا کې د سلام مبارك دين زرينې وړانګې خورې او هر طرف ځغلنده شوې دهغه په راتګ په نړۍ کې ټول غير اخلاقی،غير انساني اوغير اسلامي کړنوته دپای ټکی کېښودل شو په پغمبرۍ مبعوث شو او خپلو امتياتوته يې وويل چې زه



ستاسو لپاره ښوونکی را استول شوی يم ،حضرت محمد صل الله عليه وسلم داسې يو ښوونکی دی چې په ورځ د محشر به دخپل هر امتي شفاعت د الله جل جلاله په دربار کې کوي نوکله چې هغه صلی الله عليه وسلم ښوونکی دی اوهغه پر الله جل جلاله څومره ګران وو ځکه خو يې موږ ( انسانانو ) لپاره د ښوونکي (معلم ) په صفت را واستوه ،نو هر زده کوونکي ته لازمه ده چې دخپل ښوونکي سره ډېره زياته مينه وکړي،احترام يې وکړي او په هره خبره يې عمل وکړي ځکه ښوونکي هر وخت خپل زده کوونکی سمې لارې ته را بولي

رفيع الله روشن

# ناله

شفیق احمد ستاک

دلم از فتنهء ابنای زمان، صد چاک است
روز و شب در نظرم، منظرِ وحشتناک است
پای دریای دوچشمم، به گلِ روی زمین
ناله هرجا که روم، همنفسِ افلاک است
دربِ دکّان لبم بین که در این شهرِ فساد
باز یکبار دِگر بسته و مُهر و لاک است
خواب آرام مُیَسّر نشود در گیتی
تا که اندیشهء نان وهوسِ پوشاک است
هیچ چیزی به جهان غیرِ خدا، پایا نیست
قاصدِ عمر، سوی منزلِ استهلاک است
دل اگر نغمهء آهنگِ خموشی دارد
هر نوایش، گُلِ پژواکِ هزاران راک است
معنِیِّ سوختنِ سوختگان کی داند
پای فهمی که به خاکستر صد ادراک است
دی چو از حالتِ همسایهء خود پرسیدم
گفت: "مَتپُوچ" " أخِی" حالتِ من، "تیک تاک" است
خانهء چشم و زمینِ دل بیچارهء چرا؟
خاطرِ شهرکِ اغیار، در استملاک است
نکنم کاخِ تکبر سرِ این خاک، بلند
کآخرِ کار فرو ریزد و مشت خاک است
آمد و رفتِ نفس کرد مرا نیز خراب
آری فرسوده شود، هرچه دراصطکاک است
صید بسیار کنند، لیک به لطفِ خالق
هرکه را باز نصیبی به سرِ فتراک است
نخل شعر من اگر سبز وبهاری نبود
برگ وباری ز چه هر روز در این اِستاک است؟
باش ای دوست که تا خوب نشانت بدهم
عکسهای دِگری نیز دراین کِتلاک است
حاصلِ خمر و زنا چیست در این خاک، "ستاک"؟
.ایدز، سفلیس، پروستات و یا سوزاک است

# پوهه

- پوهه هغه ونه ده،چې تل مېوه کوي اوخزان نلري
- پوهه هغه څراغ دی،چې همیش رڼا کوی مړا وی کیږې نه
- پوهه هغه شتمني ده،چې خلاصیږې نه
- پوهه هغه ګل دی،چې همیشه تازه وی
- پوهه هغه دولت دی،چې په ورکړه کمیږې نه بلکې زیاتیږې
- پوهه هغه بڼ دی،چې تل مېوه کوي اوټوله مېوه یې خوږه ده
- پوهه هغه تجارت دی،چې هېڅ توان نلری، بلکې ګټه اوګټه ده.
- پوهه هغه قوت دی،چې پاچاهان ورته عاجز دی.
- پوهه هغه ښایست دی،چې ښکلا یې په جهان کې نشته
- پوهه د هغه وفادارملګری په شان ده،چې هېڅ بېلتون نلري
- پوهه هغه کلی ده،چې هرقفل خلاصوي
- پوهه هغه صدقه ده،چې وروسته له مرګ څخه هم ثواب لري.
- پوهه د شنه آسمان لمردی،چې هېڅ غروب نلري.

# روز معلم

**در سپیده دم ازل ان زمان که سازندگی کائنات اغاز می گردید**
**و کتاب تکوین گشوده میشد نخستین کلمه ایی که با قلم تقدیر**
**بر دیباچه قاموس هستی نقش بست واژه ی زیبای استاد بود**
**و سر فصل این کتاب کهن به تعلیم و تربیت اختصاص یافت**
**همیشه و در همه چیز استاد من هستید**
**روزت مبارک**

**ارسالی: محمد مدثر**

# گمنامان آشنا

روز معلم، روز بزرگداشت عشق و ایثار است روز تجلیل از کسانی که علم را جرعه جرعه در جان ها جاری کردند. خود لحظه لحظه سوختند و با دانش خویش، جامعه را ساختند و فردای باشکوه را نوید می دهند. امروز، روز بزرگداشت کسانی است که الف قدّشان، در راه تعلیم و خوبی ها خمیده شد. روز پاسداشت عزیزانی است که در سنگر علم و دانش، سربازانی با اخلاص و دانشمند تربیت کردند. امروز، روز یاد کردن از گمنامان آشناست؛ آنان که دفترهای خاطرات از عطر یادشان آکنده است.

**ارسالی: جاوید احمد**

## دښوونکي لوړمقام ته

که وقاردی په جهان کې نووقاردی دښوونکي
چې حساب یې په کړو وړو شي لوړ کردار دی د ښوونکي
تاریکۍ دجهل تښتي ،چې دلمر رڼا وګوري
تل په توره شپه راغلی سپین سهاردی د ښوونکي
دخپل زړه وینې اوبه کړي دهیواد ګلان خروب کړي
داسې ډک چې له سروګلونه ګلزار دی دښوونکي
دهیواد د بڼ ګلونه چې په هره خوا غوړیږي
په وطن بانډې را غلي بیا بهاردی دښوونکي
نه سکندر اونه محمود شته خو ستا دی په دنیا کې
په جهان کې ډېر اوچته اعتباردی دښوونکي
په نړۍ کې قدر ډېر شي دښوونکي له هر رنګه
خوزموږ ه په دنیا کې نصیب خواردی دښوونکي
چې دا وران وطن ودان کړي دازلمي شاګردان پوه کړي
پروت په دغه ستره چاره کې معیاردی دښوونکي
ټول دزړه په وینو رنګ دی اوغمونه هم په کې دي
که یې ګورې ورته راشه لاله زار دی دښوونکي
د اجهان پیدا و ښکلی خومعلم یې سنګار جوړ کړ
په جهان کې ښکلا څه ده دا سنګار دی دښوونکي
حافظ هم یووخت شاګرد و د بستان دمحبت
چې دزړه له څګرخونه خبردار دی. دښوونکي

**رالیږونکي: عبدالجبار**

## الفبای عشق

معلم عزیز! آن زمان که پای درست می نشستم و تو الفبای عشق را به من می آموختی، دلم از گوهر کلمات خالی بود و من با انبوهی از حرف ها به خانه بر می گشتم و شبانگاهان، با یاد تو به خواب می رفتم. سال ها از آن لحظات شیرین می گذرد، ولی هنوز یاد و نامت دردلم زنده است و تو را می ستایم که همچون انبیا، به تعلیم و تربیت عشق می ورزی. آن زمان برایم از دانایی می گفتی، محبت را می آموختی و زندگی را هجا می کردی، و من در سایه سار وجودت پیش می رفتم و قدم امروز به احترام نامت قیام می کنم، در زلال کلماتت رها می شوم و حدیث زندگی را با تو مرور می کنم. از قدم برمی داشتم. تو بودی که دست مرا گرفتی تا در پرتگاه ها و لغزش گاه های زندگی نیفتم.

**ارسالی: عزیر**

## الگوی مناسب

درس دادن، بهانه ای است تا شاگرد در کنار درس خواندن، در پی نیاز روحی و روانی اش پا را از محیط خانواده فراتر گذارد و وارد فضای گسترده تری به نام مکتب شود و در آنجا، بر دانسته ها و توانایی های خود بیفزاید. شاگرد در پی سرمشقی کامل تر و تواناتر است تا با پیروی از او، خود را از نظر فضیلت های اخلاقی، همانند او گرداند. از این نظر، معلم به سبب برخورد رویارو با شاگرد، موقعیت ممتازی دارد. ذهن فراگیر شاگرد، پیوسته از تمامی رفتار و گفتار معلم الگو می گیرد .بنابراین، معلم باید بکوشد خود را به عنوان الگوی مناسب تقویت کند و به اخلاق انبیا و اولیا آراسته گردد.

www.masbatsms.ir

## دوکتور عبدالقیوم د پوهنې نولسم وزیر

**ګل آغا احمدي وردګ**



ښاغلی دوکتور عبدالقیوم له ۱۳۴۸ کال څخه تر ۱۳۵۰ کال پورې د پوهنې د وزیر په توګه دنده اجرا کړې ده. دوکتور عبدالقیوم د لغمان ولایت اوسېدونکی او د افغانستان د پخواني صدراعظم دوکتور عبدالظاهر ورور وو چې خپلې زده کړې یې د ننګرهار په پوهنتون کې بشپړې کړې وې. دوکتور عبدالقیوم ته د دیموکراسۍ په لسیزه کې د پوهنې د مهم وزارت دنده و سپارل شوه چې د خپلې دندې پر مهال یې په هېواد کې د تعمیم او مسلکي کولو په لوري ګړندي ګامونه کېښودل او دغه نظام ته یې د پام وړ لاسته راوړنې په برخه کړې. کله چې په افغانستان د پخواني شوروي یرغل و شو نو دوکتور عبدالقیوم هم د نورو زیات شمېر افغانانو په څېر بهر ته هجرت وکړ چې د ۱۳۹۱ کال د وري په ۲۰ مه نېټه یې د حق داعي ته لبیک ووایه او له هېواد څخه لرې د امریکا په متحده ایالاتو کې یې له فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

Weekly Marif Newspaper

A Wholesome, Balanced And Diligent Education System Guaranties The Development And Prosperity Of A Country

Established 2002, Issue No 201, Month September - October 2016

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# سفر معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی به ولایت هرات

پوهندوی رحیل‌محمد فرُملی، معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف درجریان سفری که به ولایت هرات، داشتند از انستیتوت‌های زراعت ، وترنری، اداره و خیریه پیر هرات دیدار بعمل آورده، نمایشگاه فروغ مهر و نمایشگاه دایمی تعلیمات تخنیکی و مسلکی را افتتاح کرد.



در این دید و باز دیدها محمد آصف رحیمی حساب‌داری دیدار بعمل آورده و سنگ بنای دیواراحاطه انستیتوت زراعت را گذاشتند . موصوف ، از لیسه‌های نابینایان(روشن‌دلان)، ناشنوایان و ساختمان‌های نیمه‌کاره مرکز تحقیقاتی تعلیمات تخنیکی و مسلکی و انستیتوت اداره و حسابداری، دارالایتام شیخ‌الاسلام خواجه عبدالله انصاری و بنیاد والی هرات، عبدالرازق احمدی رییس معارف، نعیم‌الله محب آمر تعلیمات تخنیکی و مسلکی، آمران انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی، بزرگان قومی، برخی اعضای شورای ولایتی، محصلان، خبرنگاران، سیاسیون و فرهنگیان این ولایت نیز حضور داشتند. شایان ذکر است که از بدو ایجاد حکومت وحدت ملی پیشرفت های عرصه معارف در جهت ارتقا کیفیت نظام آموزشی رو به بهبود بوده که معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی نیز از این امر مثتسنی نبوده و تا کنون توانسته است ۵۰۰ محصل را جهت آموزش های تخنیکی و مسلکی به کشور هندوستان بفرستد، سرمایه گذاری۵ کشور اروپایی در سکتور تعلیمات تخنیکی ومسلکی، ایجاد لایحه وظایف در چوکات تعلیمات تخنیکی و مسلکی، جلب کمک های کشورهای آلمان، چین، و بانک جهانی برای ایجاد انستیتوت های تخنیکی ومسلکی به سویه بین المللی، افزایش ۳۵ در صدی جذب محصلان در انستیتوت های تعلیمات تخنیکی و مسلکی، بورسیه ۳۵ استاد برای برنامه ماستری در کشور هندوستان، ریشه کن ساختن فساد مالی از معینیت تعلیمات تخنیکی ومسلکی و ایجاد سیستم منظم نظارت برلیلیه ها، تنظیم و انسجام ساختن امور اداری و کاری در معینیت تعلیمات تخنیکی و مسلکی موارد است که میتوان آنرا به صفت گام مثبت در راه ترقی و پشرفت معارف طی سالهای پسین بر شمرد .

# میدان وردګو کې کثیرالرشتوی انستیتوت ته نوې ودانۍ جوړېږي

د میدان وردګو ولایت په ټوپ دښته کې د یو باب کثیرالرشتوي انستیتوت د بنسټ ډبره کېښودل شوه. د انستیتوت نوې ودانۍ په راتلونکو ۱۵ میاشتو کې جوړېږي، چې اسانتیاوې به ولري. پر دې دوه پوړیزه ودانۍ، چې پر اته جریبه ځمکه جوړېږي، ۵۵،۴ میلیونه افغانۍ لګښت راځي، چې د دوست هېواد



۸ درسي ټولګي، څلور اداري او ۱۸ د اوسېدو خونې او نورې اړینې ښوونیزې هندوستان لخوا ورکول کېږي. په دې تړاو جوړو شویو مراسمو کې د میدان وردګو والي ښاغلي انجنیر څنډي ګل زماني، د پوهنې ریس فضل الرحمن طارق، د ولایتي شورا غړو، قومي مشرانو او د یاد ولایت د دولتي ادارو یو شمېر چارواکو ګډون درلود.

ښاغلي زماني د میدان وردګو له ولسونو وغوښتل، چې د خپلو اولادونو د ښې او روښانه راتلونکې او د هېواد د ترقۍ او پرمختګ په موخه د پوهنې نظام د پیاوړتیا او پراختیا لپاره سره یو موټی شي او په دې برخه کې له سیمه ییزې اداري سره په ګډه جدي هلې ځلې وکړي.

ددې انستیتوت په جوړېدو سره به د سیمې د یو ډېر شمېر هغو زده کوونکو د لوړو زده کړو هیلې پوره شي، چې د اقتصادي او یو شمېر نورو ستونزو له امله نه شي کولای نورو ولایتونو ته لاړ شي.

# آغاز برنامه ترویج فرهنگ مطالعه و کتابخانه

برنامه ترویج فرهنگ مطالعه و کتابخانه به کمک مالی بنیاد آسیا سرمعلمین و کتابداران ۷۱ مکتب دوره ابتدایی مرکز ولسوالی های




توسط موسسه انکشاف تعلیمی و اجتماعی صلح برای معلمین، ولایت کابل در تالار هوتل سپین زر آغاز گردید.

این برنامه سه روز ادامه میابد که بعد از ختم آن از طرف موسسه انکشاف تعلیمی و اجتماعی صلح، وزارت معارف و بنیاد آسیا بطور مستمر نظارت خواهد گردید.

هدف عمده این برنامه بلند بردن سطح سواد و آشاعه فرهنگ مطالعه و کتاب خوانی از طریق علاقمند ساختن اطفال به کتاب دوره ابتدائیه مکاتب میباشد.

گفتنی است که برای ۱۵ باب مکتب که اهداف برنامه را به وجه احسن تطبیق و عملی نماید در لست بهترین ها انتخاب گردیده و به کتابخانه های مربوطه شان از طرف موسسه یاد شده و بنیاد آسیا مساعدت صورت خواهد گرفت.

# د ډنمارک سفیر د پوهنې وزارت سره د خپلو مرستو په دوام ټینګار وکړ

په کابل کې د ډنمارک هېواد نوي سفیر جین چارلس الیرمن کینګومب د پوهنې وزارت د کتابونو له مرکزي ګودامونو کتنه وکړه. ډنمارک هېواد د یادو ګودامونو په جوړولو او د کتابونو په چاپ کې له پوهنې وزارت سره مرسته کړې ده.

د سفیر د لیدنې یوه موخه هغه کتابونه و، چې تېر کال چاپ شوي او تر دې مهاله له دې امله، چې د سفارت لخوا ګومارل شوې درېمې ناظرې کمپنۍ یې کیفیت ټیټ ښودلی نه دي وېشل شوي. پوهنې وزارت د ښوونځیو د کتابونو د جدي اړتیا له امله د یادو کتابونو د ستونزې د حل او د هغو د وېشلو هڅه کوي، چې د ډنمارک سفیر یې په اړه د همکاریو ژمنه وکړه.

په دې کتنه کې د پوهنې وزارت د اطلاعاتواو نشراتو رئیس محمد کبیر حقمل د ډنمارک له مرستو مننه وکړه او هیله یې څرګنده کړه، چې د کتابونو د کمښت د له منځه تلو لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکړي. نوموړي همدارنګه د هغو نیوکو یادونه هم وکړه، چې د کتابونو د نه وېش له امله را پورته شوې دي.

د ډنمارک سفیر وویل، چې مرستې به یې د پوهنې د کیفیت د ودې له لارې له معارف سره دوام وکړي، چې بې له شکه به یې یوه برخه د کتابونو د چاپ او وېش لپاره وي.

# معرفی لیسهٔ عالی زرغونه

لیسهٔ عالی زرغونه در سال ۱۳۲۰ هجری شمسی به قسم ابتدائی در شهر کابل واقع پارک زرنگار فعلی تأسیس گردید و در سال ۱۳۳۲ هجری شمسی به متوسطه ارتقا نمود بعداً کار اعمار تعمیر جدید لیسه عالی زرغونه در باغ فتح الله خان آموزش میباشند که امور تدریسی شان ازسوی۲۳۸ تن معلم که درجه تحصیل ۳ تن آنها ماستر ۹۸ تن لسانس ۱۳۲ تن فوق بکلوریا و ۵ تن دیگر آن بکلوریا میباشند به پیش برده میشود. خانم نورزائی می افزاید: لیسه زرغونه دارای ۱۵۹ اتاق درسی



طرزی واقع شهر نو کابل آغاز گردید. شاگردان لیسه زرغونه در نخست در سه موقعیت مصروف فراگیری درس بودند. محترمه نسرین نورزائی مدیره لیسه زرغونه در مورد لیسه متذکره چنین می افزاید: درلیسه زرغونه ۸۰۰۰ تن شاگرد در دو تایم مصروف بوده که با داشتن یک کتابخانه، دو اتاق کمپیوتر و سه لابرتوار مجهز کیمیا، بیولوژی، و ریاضیات همه روزه درهنگام آموزش عملی شاگردان ما از آن استفاده میکنند قابل یاد آوریست که مکتب متذکره سالانه یک هزار تن شاگرد فارغ میدهد.

# پیام تسلیت

با تاًسف و تاًلم فراوان اطلاع یافتیم که یکی از مربیو ن صاحب دانش و معلمه با درد و مهربان معارف شهر کابل ( معلمه لیسه چهار قلعه چهاردهی ) مرحومه خیریه معصوم شالیزی بنت محمد معصوم که در سال (۱۳۳۱)



بخانواده روشنفکری آنروزگار در گذر باغ قاضی الله ناحیه اول شهر کابل دیده بجهان باز کرده تحصیلات خودرا تا درجه بکوریا در لیسه رابعه بلخی بپایان رسانیده به ادامه تحصیلات شامل پوهنځی ادبیات پوهنتون کابل گردیده و درسال (۱۳۵۱) فارغ رشته جغرافیه بسویه لیسانس تقدیم جامعه شد بلاوقفه بسال (۱۳۵۲)احراز موقف وظیفه شریف معلمی را حاصل و الی تاریخ (۱۵) اسد ۱۳۹۵ با افتخار تربیه دختران فهیم بجامعه افغانی تقدیم داشته ، نسبت مریضی سرطان که عاید حالش بود داعی اجل را لبیک گفته به ابدیت پیوست (انا لله و اناالیه راجعون )رهبری وزارت معارف وفات وی را ضایعه بزرگ بر پیکر معارف دانسته به معلمین ، معلمات شاگردان و منسوبین آن خانواده اظهار تسلیت کرده مقامش را فردوس برین خاطراش را گرامی میدارد .

مسوول مدیر: محمد نسیم "عیاذ"
کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان عبدالصبور غفراني - محمد اکرم وفادار
خبریال: - محمد طائب عمري - محمد اشرف رسولي
کمپوز او ډیزاین: بریالی رحمانزی
شمیر: ۵۰۰۰
دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)
ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com
پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت